د بېړنۍ خپرونې لپاره

د ام-پیسه له لارۍ د پروموټ پروژې په کاري دورې (انټرنشپ) کې شاملو ښځو د معاش ورکړه

د چنګاښ ۲۱مه، ۱۳۹۵ – (کابل، افغانستان) – د روشن ام-پیسه خدمتونو چې په هیواد کې د موبایل له لارۍ د پیسو لیږد را لیږد تر ټولو مخکښ خدمتونه دي، د پروموټ (PROMOTE) – د ښځو وندې په اقتصاد کې -پروژې د ۹،۵۰۰ کاري دورې (انټرنیشپ) ښځینه ګډون کوونکو د معاشاتو د یوې برخې چې د نړیوال پرمختګ لپاره د آمریکا متحده ایالاتو اداری (USAID) لخوا ورکول کیږي،د تادیه کولو لپاره هوکړه لیک امضاء کړ. دغه هوکړه لیک د پروموټ پروژې د پلي کوونکي همکار (DAI) لخوا د روشن سره ترسره شو.

روشن لومړنۍ شرکت و چې په ۱۳۸۷ کال کې یې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د موبایل له لارۍ د پیسو د لیږد را لیږد خدمتونه رامنځته کړل. د ام-پیسه د ډیرو غوره خدمتونو څخه یو په هیواد کې سرتاسره د معاشونو رون او خوندي لیږد دی. اوسمهال په هیواد کې سرتاسره د ۴۰ څخه ډیر شرکتونه د ام-پیسه له لارۍ د خپلو کارکوونکو معاشونو توضیع کوي. ام-پیسه اوس د سل زرو څخه ډیر فعاله پیرودونکي لري.

د روشن شرکت اجراییوي رئیس، ښاغلي کریم خواجه د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل:"د ام-پیسه په رامنځته کولو سره مونږ غوښتل چې په هیواد کې مالي خدمتونو ته سرتاسره لاسرسی رامنځته کړو او افغانانو ته داسې آسانتیاوې وړاندې کړو چې د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې مرسته وکړي اوس مونږ یو ګام مخکې لاړو چې له لارۍ یې افغانان مالي او بانکي خدمتونه ته لاسرسی پیدا کوي." ښاغلي خواجه زیاته کړه: " ام-پیسه شرکتونو، موسساتو او دولتي ادارو ته دا موکه برابروي چې د خپلو کارکوونکو معاشونه هغوی ته په شفافه توګه او په وخت واستوي. مونږ غواړو چې د داسې هوکړه لیکونو له لارۍ دی خدمتونو ته لا پراختیا ورکړو."

ام-پیسه د پیل څخه راهیسې شرکتونو، موسساتو او دولتي ادارو ته ډیر داسې نوښتونه وړاندې کړي چې له هغوی سره یې د خپلو مالي معاملو په ښه توګه ترسره کولو کې مرسته کړې. د دې نوښتونو څخه یو یې د ام-پیسه له لارۍ د برښنا بل تادیه کول دي چې پیرودونکي ورسره کولای شي خپل وخت او پیسې وسپموي او د خپل کور څخه د خپل موبایل له لارۍ په خوندي توګه د برښنا بل ادا کړي.

پروموټ په ټوله نړۍ کې د ښځو د پیاوړتیا لپاره تر ټولو لویه پروژه ده چې د ښځو لپاره په سیاسي، شخصي او مدني سکټورونو کې د پرمختګ لپاره موکې برابروي. د ښځو او انجونو لپاره د تیرو پروګرامونو په اساس د پروموټ پروژه رامنځته شوه چې د افغانوښځو د نوي نسل چې د ۱۸ څخه تر ۳۰ کلونو پورې عمر لري، د تعلیم او تربیې، پرمختګ او زده کړې په برخه کې فعالیت کوي. د دې پروژې موخه د افغانستان د پرمختګ لپاره په سیاست او اقتصاد کې د ښځو د وندې ډیرول، په لوړو دولتي بستونو کې د ښځو د تعداد ډیرول، او د هغوی سره د سوداګریزو او مدیریتي مهارتونو په لوړلو کې مرسته کول دي.

د ام-پیسه په اړه
د ام-پیسه خدمتونه د روشن لخوا په ۱۳۸۷ کال کې رامنځته شو چې په هیواد کې د موبایل له لارۍ د پیسو د لیږد را لیږد لومړني خدمتونه وو. ام-پیسه د هیواد ۹۰ سلنه وګړو ته چې بانکي خدمتونو ته لاسرسی نلري، دغه خدمتونه وړاندې کوي. ام-پیسه د کوچنیو پورونو د ترلاسه کولو او بیرته ادا کولو، په هیواد کې دننه او نړیواله توګه د پیسو د لیږد رالیږد، د معاشاتو ترلاسه کول، د کریډیټ رانیول او د بریښنا بل د ادا کولو په ځیر مالي خدمتونه په خوندي، آسانه او چټکه توګه وړاندې کوي. ام-پیسه ذکر شوي مالي خدمتونه د ډایلولو(USSD) او غږیز سیستم (IVR)له

لاری په ډیره آسانه توګه وړاندی کوي. دغه غږیز سیستم په پښتو، دري او انګلیسي ژبو کی چمتو شوی چی په هیواد کی د نالوستو وګړو د تعداد په نظر کی نیولو سره ډیر ګټه ور تمام شوی.
د ام-پیسه خدمتونه د روشن د پراخه شبکی څخه په ګټی اخیستنی چی د هیواد په ۳۴ ولایتونو کی یی ۲۸۷ ښاروونه، ښارګوټي او ولسوالی د پوښښ لاندی راوستي، ټولو هغو وګړو ته چی بانکي خدمتونو ته لاسرسی نه لري، دغه خدمتونه وړاندی کوي.

د نړیوال پرمختګ لپاره د آمریکا متحده ایالاتو اداری (USAID) په اړه:
د نړیوال پرمختګ لپاره د آمریکا متحده ایالاتو اداره په افغانستان کی د دوه اړخیزو بشر دوستانه مرستو تر ټولو لوی چمتو کوونکی دی چی د ۱۳۸۱ کال راهیسی یی د افغانستان په بیارغونه کی تر ۱۷ ملیارده ډالرو څخه ډیر مصرف کړي دي. د نړیوال پرمختګ لپاره د آمریکا متحده ایالاتو اداره د افغانستان د دولت سره په ګډه د دی هیواد د اقتصادي پرمختګ لپاره چی د شخصي سکتور لخوا رهبري کیږي، فعالیت کوي. همدا راز د نړیوال پرمختګ لپاره د آمریکا متحده ایالاتو اداره په افغانستان کی د یو دموکرات او پیاوړي دولت رامنځته کولو لپاره چی په قوانینو ولاړ وي، هڅه کوي. د روغتیا او پوهنی سکتور هم له هغو سکتورونو څخه دي چی دغه اداره یکی په افغانستان کی خپل فعالیتونه په مخ وړي.

د روشن په اړه

روشن (دافغانستان دمخابراتو د پراختیا شرکت) د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنی ده چی تر ۶,۵ میلونو څخه ډیر فعاله پیرودونکي او تر ټولو غوره شبکه لري چی د هیواد په ۳۴ ولایتونو کي د ۲۸۷ څخه ډیري ولسوالی او ښاروونه یي د پوښښ لاندي راوستي دي.
روشن د افغانستان د بریاوو ښه نمونه ده چی د هیواد په پرمختګ کي فعاله ونډه لري. په ۱۳۸۲ کال کي د فعالیت پیلولو څخه تر دي دمه یي په افغانستان کي ۷۰۰ میلونه ډالره پانګه اچونه کړي ده او د هیواد تر ټولو لویه پانګه اچوونکي او مالیه ورکوونکي کمپنی ده چی د افغانستان د کلني داخلي عوایدو تقریبا ۵ سلنه برابروي. روشن په مستقیمه توګه تقریباً ۹۰۰ افغانان په کار ګمارلي چی دهغو له جملي څخه ۱۹ سلنه یي ښځي دي. او همدارنګه ۳۵۰۰۰ افغانانو ته یي په غیر مستقیمه توګه د کار آسانتیا برابره کړي ده.

روشن د افغانستان بیارغوني او پرمختګ ته هراړخیزه ژمنتیا لري. د اقتصادي پرمختګ لپاره د آقا خان سپما (AKFED)، چی د آقا خان د پرمختیایي شبکی(AKDN) یوه برخه ده، د روشن تر ټولو ډیر پانګه اچوونکي دي چی په وروسته پاتي هیوادونو کي د اقتصادي زیربناګانو او شخصي تشبثاتو څخه ملاتړ کوي. همدارنګه دروشن یو اندازه پانګه اچونه د موناکو ټیلیکام انټرنیشنل (MTI) او تیلیا سونیرا له خوا تر سره شوی. روشن افغانستان ته نړیوال مهارتونه راوړي او د افغانانو لپاره د باکیفیته شبکي چمتو کولو ته ژمن دي.

د روشن په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره www.roshan.af یا www.facebook.com/RoshanConnects ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شی مونږ د ټویټر له لاری @roshanconnects تعقیب کړئ.

د روشن سره د اړیکی لپاره
شفیع شریفی
ایمیل: shafi.sharifi@roshan.af
ټلیفون: 0093799999065